safar

# بتان

## زمونږ د زړه دپاره جګړه

### د پیل ټکی

ایا کولای شئ دا لاندې شیان د یو بل کس سره شریک کړئ؟

- هغه کار چې په سر ته رسولو یې علاقه لرئ یا غواړئ چې هغه ښه سر ته ورسوئ؟

ولې د هغه کار د پای ته رسولو څخه خوند اخلئ؟ ایا هغه کار ستاسو کومه غوښتنه یا اړتیا پوره کوي؟

- کوم کار دی چې پوهېږئ هغه سم نه دی، خو علاقه لرئ چې هغه کار وکړئ؟ ولې لاهم د هغه کار خواه ته لېوالتیا لرئ؟

### بحث او خبرې

هر انسان خپلې معقولې اړتیاوې او غوښتنې لري. ایا کولای شئ د دې غوښتنو چې د ټولو خلکو په منځ کې عام دي، یو لست تیار کړئ؟
په زوړ عهد کې، بتان خدایان وو چې خلکو د هغوی د عبادت کولو کوښښ کاوه او یا هغوی د خاصو اړتیاوو د پوره کولو دپاره د خپلې ساتنې، هوسایې، قدرت، خوړل او څښل، زرغونتیا او خوښی کې په بتانو باندې باور کاوه.
اوس، بتان کېدای شي هر شی وي چې مونږ د هغوی په لټه کې یو او په هغوی باندې باور کوو چې زمونږ غوښتنې پوره کړي.

- کوم ډول بتان په اوسنی نړۍ کې شته؟
- څنګه حتی ځینې هغه نېک شیان کېدای شي مونږ ته په بتانو بدل شي؟

### اصلي مفکوره

هر انسان خپلې طبیعي غوښتنې لري لکه: امنیت، هوسایي خوړل او څښل، شغل، مالونه او شتمنې، خوشحالي او ازرښتونه.
دا څرګنده ده چې مونږ د خپلو اړتیاوو د پوره کولو دپاره زیار باسو او بې له شکه دا یو سم کار دی.
پوښتنه دا ده چې مونږ د خپلو طبیعي او معقولو اړتیاوو د پوره کولو دپاره چېیې ځو او یا د چا په لټه کې یو؟
ځینې وخت مونږ د خپل زړه د رضاکولو دپاره د شیانو په لټه کې یو چې په واضح توګه زمونږ دپاره د بربادۍ او ورانۍ سبب ګرځي.
داسې وختونه شته چې د نېکو شیانو په لټه کې یو. خو که د امېد د پوره کولو دپاره، خوښۍ او ارزښتونه د خدای په ځای هغه نېکو شیانو ته مخ واړو. حتی هغه نېک شیان هم مونږ ته کېدای شي په بت باندې بدل شي.
بتان دا قدرت لري چې ورو، ورو زمونږ په زړونو کې د خدای ځای ونیسي، خو په پایله کې به هغوی دا توان ونه لري چې زمونږ غوښتنې پوره کړي. په بدل کې په خدای باندې زمونږ د باور مانع ګرځي. هغه خدای چې یوازې هغه زمونږ د غوښتنو او اړتیاوو په پوره کولو باندې قادر دی.

### په کلام باندې تعمق او غور

لاندې ایتونه ولولئ:
زبور ۱۳۵: ۱۵-۱۸

- ولې بتان نه شي کولای مونږ سره مرسته وکړي؟
- بتان څنګه زمونږ د ژوند شخصیت او بنې ته شکل ورکوي؟

زبور ۸۱: ۶-۱۲

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

- ولې مونږ ځينې وخت له خدايه پرته نورو شيانو ته مخه کوو؟
- ولې خدای له مونږ نه غواړي چې د بل خدای عبادت ونه کړو؟
- په دې صورت کې خدای مونږ سره د کومو کارونو د سرته رسولو وعده کوي؟

## بحث او خبرې

- اوس ستاسو تمرکز په کومو اړتياوو باندې دی؟
- کومې سالمې او ناسالمې لارې د دې اړتياوو دپاره شته؟

اول يوحنا ۵: ۲۱ ولولئ.

- دا ايت مسيحيانو ته ليکل شوی ؤ. ولې يوحنا دا ډول خبرداری ورکړی دئ؟

## همدا اوس په ګډه تمرين وکړئ.

زمونږ په ژوند کې د بتانو د پېژندلو يوه لاره، پوښتنه کول دي:
که دا شی له مونږ نه واخيستل شي، ايا د هغه په بدل کې به د نااميدۍ او ناتوانۍ سره مخامخ شو؟
ولې مونږ په خپل ژوند کې مهم شيان له لاسه ورکوو، نارامه کېدل د هغه په هکله کومه خطا يا ګناه نه ده. خو که د هغه شي نه شتون د نااميدۍ او زمونږ د ژوند د بې_معنی کېدلو سبب کيږي، نو پوه شئ چې کوم بت ستاسو په زړه کې ځای نيولی دی.
ايا اورېدلي مو دي يا خپل ځان سره مو ويلي دي، د بيلګې په توګه پرته د فلان شي څخه د خوشحالي احساس نه کوم او کامل نه يم؟
کله چې دا ډول جملې ويل کيږي، په اصل کې دا کس خپل امېد په کوم ځای کې پيدا کوي او څنګه د کامل کېدلو احساس کوي؟
دې لاندې لست ته په ځير سره وګورئ.

- کورنۍ
- اولادونه
- واده
- جنسي اړيکي
- ظاهري ښکلا
- بريا او کاميابي
- امنيت
- رضا کېدل
- پيسې
- عجيبه پېښې
- شغل او مسلک
- زدکړه او وړتياوې
- اخلاقي اصول
- احترام، غزت او موقف
- خدمت
- او داسې نور

خدايه، له تا نه شکر ګزار يم د هغو ټولو نېکو شيانو دپاره چې زمونږ په ژوند کې شتون لري چې ته له هغه سره مينه لرئ.
له روح القدسه وغواړئ هغه شيان چې ستاسو په ژوند کې تاسو ته په بت بدل شوي دي، هغه تاسو ته وښيي.
هغه څه چې خدای تاسو ته مکاشفه کړي دي ، د يو بل سره يې شريک کړئ.
اعتراف وکړئ او له خدايه وغواړئ، چې تاسو وبخښي.
اعلان وکړئ چې له دې نه وروسته د خپلو اړتياوو او غوښتنو د پوره کولو دپاره به يوازې په خدای باندې تکيه کوئ.

## هره ورځ خپل تمرين تکرار کړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

- کله چې مواحساس وکړ خپلې غوښتنې او اړتیاوې مو نه پوره کیږي، اعلان وکړئ چې د خپلو اړتیاوو په پوره کولو کې په خدای باندې باور لرئ.
- خدایه، شکر کوم د هغو ټولو شیانو دپاره چې په دې هفته کې مو له هغه خوند واخیست. پوه شئ چې یوازې خدای قادر دی چې ستا اړتیاوې پوره کړي.
- د ورځې له خواه هغه وختونه چې له خدای سره یې لرئ، له هغه نه وغواړئ ترڅو هغه برخه د زړه مو چې په پوره توګه له هغه سره نه دی، تاسو ته یې وښيي.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved